## وزارت امورمهاجرين وعودت کنندگان

## د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړيکو آمريت

# خبري بلوټن

# News Bulletin

۱۴ سنبله _سال ۱۴۰۰




اخبار مهم
افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه

به ارزش بیش از ۱۶ ملیون دالر، تفاهم نامه های همکاری میان وزارت امور مهاجرین و شماری از موسسات امضا شد ۱
له ایران څخه سلګونه افغان مهاجر هېواد ته راستانه شول ---------------------------------------------------------- ۲
یونان: د ۱۵۰ زره ناقانونه مهاجرو مخه مو نیولې -------------------------------------------------------------- ۳
آلمان غواړي په «چانس کارډ» د کډوالۍ نوی پروګرام پیل کړي -------------------------------------------------------- ٤
د خوړو نړیوال پروګرام افغانستان سره د کاناډا هېواد د مرستې له امله مننه کړې ---------------------------------------- ٦
برېتانیا کې د کډوالو د وضعیت پر خرابېدو د کډوالو وزیر 'ریچارډ هرنګټن' استعفا کړې ---------------------------------- ٦
مهاجر غیرقانونی در ادیرنه ترکیه دستگیر شدند ------------------------------------------------------------------ ۷
عملیات نیروهای امنیتی ترکیه برای مقابله با ورود و خروج غیرقانونی مهاجران در سراسر کشور همچنان ادامه دارد---------------------------------------------------------------------------------------------- ۸
معین وزارت عدلیه : در یک سال گذشته دو هزار سه صدو سی و نه دوسیه به بخش قضایای امارت اسلامی رسیده است ---------------------------------------------------------------------------------------------- ۸

# متن کامل اخبار

## به ارزش بیش از۱٦ملیون دالر، تفاهم نامه های همکاری میان وزارت امور مهاجرین و شماری از موسسات امضا شد

ویب سایت وزارت



پنج پروژه عام المنفعه، به ارزش مجموعی ۱٦ ملیون و۸۱٦ هزار و۲۱۰ دالر، توسط مولوی سردار محمد شیر زاد، رییس رسیده گی به وضعیت بیجاشده های داخلی و سرپرست کمیته تفاهم نامه های وزارت امور مهاجرین ونماینده گان موسسات DRCو اکشن اید، به تاریخ ۱۳ سنبله به امضا رسید.

به اساس تفاهم نامه های که با موسسهDRC ، به امضا رسید، نهاد مذکور، پروژه بهبود زیر بنا های جوامع از طریق مشارکت مردمی افغانستان را به شیوه کار در مقابل پول، برای ۸۰۵ فامیل در ولایات غزنی و لوگر، پروژه کمک های مدغم شده محافظت وتقویه اقتصادی در افغانستان را، برای۱۸٤۰ فامیل در ولایت ننگر هار، پروژه حفاظت وحمایت اقتصادی را برای ۷٤٦۰ نفر در ولایات کابل، لوگر، غزنی، قندهار، زابل، نیمروز، هرات، فراه، ننگر هار،کنر و میدان وردک وپروژه تقویت وکمک اقتصادی به جوامع رو به بهبود را برای یکصدو ۲۹ هزار و٦٤۰ نفرتطبیق می نماید.

همچنان موسسه اکشن اید، به اساس تفاهم نامه عقد شده، مبلغ ۶۸ هزارو ۱۸۴ دالررا درحفر چاه عمیق، مخزن آب، مبرز و حمام در کمپ مهاجرین معاذ بن جبل ولایت بلخ بمصرف میرساند که بیش از ۲ هزارخانواده از آن مستفید خواهد شد.

رییس عمومی بیجاشده های وزارت امور مهاجرین، حین امضای تفاهم نامه ها گفت که فراهم آوری شرایط مساعد و مطمین کار در مرکز وولایات، به عهده امارت اسلامی افغانستان است وما از موسسات تقا ضا داریم که در مطابقت به تفاهم نامه های عقد شده ودر هماهنگی با این وزارت به کار آغاز نمایند.

## له ایران څخه سلګونه افغان مهاجر هېواد ته راستانه شول

د وزارت ویب پاڼه



د نیمروز ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو آمریت د معلوماتو پر بنسټ د وږي په ( ۱۰) مه (۳۱) کورنۍ،چې (۱۱۴) تنه کېږي د ( ۵۷۰) تنو نورو مجردینوسره په جبري او ( (۵) کورنۍ چې ( ۱۸) تنه کېږي د ( ۱۹۶) نورو مجردینو سره په خپله خوښه هېواد ته راستانه شوي.

د سرچینې په خبره د یادو کورنیو له ډلې (۲۱) کورنۍ، د ( ۳۹) تنو ناروغو، ( ۴۳) تنه ښځینو او همدارنګه (۱۴) تنو مجردینو سره د مرستو په موخه د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) ته ور وپېژندل شول.

## یونان: د ۱۵۰ زره ناقانونه مهاجرو مخه مو نیولې

دویچه ویله



یونان وايي په روان کال کې یې د ۱۵۰ زرو څخه د زیاتو کډوالو مخه نیولې چې د دغه هېواد پولو ته ور رسېدلي دي. د یونان د کډوالو وزیر وايي یوازې په اګست میاشت کې شاوخوا ۵۰ زره کسانو غوښتل یونان ته داخل شي.

یونان وايي په روان میلادي کال کې یې د ۱۵۰ زرو څخه د زیاتو هغو کډوالو مخه نیولې چې د ځمکنیو او سمندري لارو څخه د دغه هېواد پولو ته ور رسېدلي دي. د یونان د کډوالو وزیر وايي یوازې په اګست میاشت کې شاوخوا ۵۰ زره کسانو غوښتل یونان ته داخل شي.

د یونان د کډوالی وزیر نوتیس میتاراچي د الېفتېروس تیپوس ورځپاڼې ته ویلي دي چې «د کال له پیل راهیسي د ۱۵۴ زرو او ۱۰۲ غیرقانوني کدوالو مخه نیول شوې ده.» د هغه په خبره »تقریباً ۵۵ زرو یې هڅه کوله چې یوازې په اګست میاشت کې یونان ته داخل شي«.

د یونان د سرحدونو کنترول د یونان د محافظه پال حکومت له پاره لومړیتوب دی چې په ۲۰۱۹ کال کې قدرت ته رسېدلی دی او غواړي چې راتلونکی کال بېرته وټاکل شي. تېره میاشت حکومت اعلان وکړ چې غواړي د یونان او ترکیې تر منځ په ایوروس کې غځېدلی دېوال له اوس ۴۰ کیلومترو څخه ۸۰ کیلومتره نور هم پسې اوږد کړي. هغه همداراز غواړي چې د ګرمۍ کمرې ولګوي او ۲۵۰ نور پوله ساتي ځواکونه هم سیمې ته ولېږي .

د اغزنو کټارو او مایوسي تر منځ ژوند

یونان د هغو خلکو اصلي هدف دی چې له افریقا او منځني ختیځ څخه تښتي او په اروپایي اتحادیه کې د ښه ژوند په لټه کې دي. په زرونو کسان د ترکیې له لارې له ایوروس سیند څخه تېرېږي او د آژې د سمندر له لارې هم یونان ته د رسېدلو هڅه کوي .

په دې ترڅ کې ګڼ شمیر خیریه موسسو په اتن باندې تور پورې کړی دی چې په غیرقانوني ډول کډوال په شا تمبوي یا یې په زور سره ترکیې ته بېرته شړي. خو د یونان محافظه کار حکومت دغه خبره تل رد کړې ده. میتاراچي د یکشنبې په ورځ هم دغه خبره رد کړه چې یونان د کډوالو په جبري شړلو کې ونډه لري او پر ترکیې یې تور ولګاوه چې کډوال «په زوره ور ټېل وهي«.اروپا ته د مهاجرو د راتګ د مخنیوي نوې لارې چارې

اتن تېره میاشت هم پر ترکیې تور پورې کړی وو چې یوه ډله کډوال یې په زور سره د یونان یوه کوچنۍ ټاپو ته ورټېل وهلي ول. د بشري حقونو ډلې په عین وخت کې وايي چې په یاده پیښه کې یو پنځه کلن ماشوم مړ شوی دی وروسته له هغه چې د یونان حکومت د څو ورځو په ترڅ کې دا خبره ردوله چې یاد مهاجر د یونان په خاوره کې موجود ول .

## آلمان غواړي په «چانس کارډ» د کډوالۍ نوی پروګرام پیل کړي

دویچه ویله




د آلمان د کار او روزګار وزیر اعلان کړی دی چې یو «عصري د کډوالۍ قانون» به رامنځته کړل سي. په وینا یې د نوي قانون مقصد به آلمان ته د بهرني مسلکي کسانو راجلبول وي. آلمان دغه کار ته ځینې شرایط هم رامنځته کړي دي.

د المان کار او روزګار سره د ترلو چارو وزیر هوبېرتوس هایل د «بلډ ام زونتاګ» په نامه آلماني ورځپاڼي ته ویلي دي چې له بهر څخه په آلمان کې کار موندنه عموما ډېر مشکل کار وي. هغه زیاته کړې: «موږ د چانس کارډ په نوم د شمېرو یو شفاف نظام رامنځته کول غواړو چې هغه انسانان چې زموږ هیواد ورته اړتیا لري وکولای سي چې په آسانه راسي«. د آلماني وزیر په وینا به هر هغه کس د «چانس کارډ» ترلاسه کړلای سي چې په آلمان کې په رسمیت پېژندل سوي تحصیلي یا د مسلکي زدکړو اسناد ولري. د آلمان د سوسیال دموکرات ګوند دغه سیاستوال ویلي: «موږ هغه انسانان هم غواړو او ورته و آلمان ته د راتګ چانس ورکوو چې داسي وړتیاوي ولري چې زموږ د کار په بازار کې ورته اړتیا وي«.

«په آلمان کې تر نیم میلیون اضافه مسلکي کسانو ته اړتیا ده»

د درو شرایطو پوره کوونکی د چانس کارډ ترلاسه کولای سي

د دغه آلماني وزیر په وینا د چانس کارډ په مرسته به د شمېرو ترلاسه کولو یو نظام رامنځته کړل سي چې څلور شرایط به لري. هغه څوک به د چانس کارډ تر لاسه کوي چې له څلورو شرایطو څخه درې یې پوره کړي وي: لومړی شرط به دا وي چې لیوال کس به له آلمان څخه د باندې تحصیلي یا مسلکي بریلیک په لاس راوړی وي. دویم شرط به دا وي چې لږ تر لږه درې کاله به یې په خپل مسلک کې عملي کار کړی وي. دریم شرط دا دی چې یا به یې د اړتیا سره په سمه اندازه آلماني ژبه زده وي او یا به یې په آلمان کې پخوا وخت تېر کړی وي. څلورم شرط به دا وي چې د لیوال کس عمر به تر ۳۵ کالو کم وي. خو د دغه کارډ او نظام د تفصیلي شکل جوړولو لپاره به په حکومت کې دننه لا خبري اتري وسي.




تر اوسه د ۷۷ زرو په شاوخوا کې غیر اروپایي مسلکیانو په آلمان کې د «شین کارډ» له لاري د کار او اقامې آسانتیا په لاس راوړې دهانځور Daniel Karmann/dpa/picture alliance :

هوبېرتوس هایل په آلمان کې د مسلکي کسانو و کمښت ته په اشاره سره وویل» :موږ و آلمان ته کډوالی ته اړتیا لرو» هغه زیاته کړې ده: «موږ به کال په کال د خپلو اړتیاو په مطابقت د حد اکثر هغو کسانو شمېر ټاکو چې و آلمان ته د راتګ لپاره به د چانس کارډ ترلاسه کولای سي چې په مرسته یې هغه په آلمان کې کار یا زدکړې وکړلای سي.

## د خوړو نړیوال پروګرام افغانستان سره د کاناډا هېواد د مرستې له امله مننه کړې

د آزادي راډیو




**د افغانستان لپاره د خوړو نړیوال پروګرام په دې هېواد کې د خلکو د ملاتړ لپاره د کاناډا د دوامداره او ثابت ملاتړ ستاینه کړې.**

د خوړو نړیوال پروګرام په یوه ټویټ کې یې ویلي، د کاناډا په خبر یې د بسپنه ورکوونکو د سخاوتمندانه مرستو پر مټ په افغانستان کې د له څه باندې یویشت ملیون سړو او ښځو سره چې په اقتصادي ستونزو راګیر او په دې هوا کې چاپیریالي غمیزو او کړکېچونو اغېزمن کړي، ملاتړ کړی دی.

دا نه‌دي ویل شوي چې کاناډا له دې پروګرام سره تر اوسه څومره مرسته کړې خو له دې مخکې یې دا هېواد، د امریکا د متحدو ایالتونو، برېتانیا او اروپایي ټولنې په ګډون د لویو بسپنه ورکونکو هېوادونو او نړیوالو سازمانو په کتار کې راوستی و.

## برېتانیا کې د کډوالو د وضعیت پر خرابېدو د کډوالو وزیر "ریچارډ هرنګټن" استعفا کړې

د آزادي راډیو



کډوال - ارشیف

**په برېتانیا کې د افغان او اوکرایني کډوالو د ناوړه وضعیت تر راپورونه وروسته د کډوالو لپاره د دولت وزیر ریچارډ هرنګټن استعفا ورکړه.**

هرنګټن برېتانوي رسنیو سره په خبرو کې د خپلې استعفا تأیید کړی.

هغه منلې چې په لومړي سر کې حکومتي چارواکو سره فکر نه و چې، په لویه کچه افغان او اوکرایني کډوال به راولې او دلته به ډېر وخت په هوټلونو کې پاتې کېږي.

برېتانیا څه باندې ۱۱ زره افغانان له تېر اګست راهیسې دغه هېواد ته انتقال کړي چې له دې ډلې د راپورونو له مخې لا هم سلګونه کسان په موقتو کمپونو او هوټلونو کې اوسېږي او له ستونزو سره مخ دي.

مخکې داسې راپورونه هم خپاره شوي وو چې، د اوکرایني کډوالو په ور ماتېدو هلته د افغان کډوال له بد وضعیت سره مخ شوي دي.

## مهاجر غیرقانونی در ادیرنه ترکیه دستگیر شدند

ویب سایت رادیو صدای ترکیه

**عملیات نیروهای امنیتی ترکیه برای مقابله با ورود و خروج غیرقانونی مهاجران در سراسر کشور همچنان ادامه دارد**




نیروهای امنیتی ترکیه ۵۰ تبعه خارجی را که به صورت غیرقانونی در کشور حضور داشتند، در استان ادیرنه دستگیر کردند.

این افراد پس از طی مراحل قانونی به مرکز استرداد اتباع خارجی استان ادیرنه انتقال یافته‌اند.

در همین راستا ۲ نفر نیز به اتهام سازماندهی قاچاق انسان دستگیر و روانه زندان شدند.

عملیات نیروهای امنیتی ترکیه برای مقابله با ورود و خروج غیرقانونی مهاجران در سراسر کشور همچنان ادامه دارد.

## معین وزارت عدلیه : در یک سال گذشته دو هزار سه صدو سی و نه دوسیه به بخش قضایای امارت اسلامی رسیده است

آژانس اطلاعاتی باختر




معین وزارت عدلیه می گوید در یک سال گذشته گذشته دو هزار سه صدو سی و نه دوسیه به بخش قضایای امارت اسلامی رسیده است که پس از بررسی به محاکم سه گانه محول شده است.

به گزارش خبرنگار آژآنس باختر، مولوی عبدالکریم حیدر معین وزارت عدلیه امروز در نشست حساب دهی حکومت به ملت گفت :وزارت عدلیه امارت اسلامی یکی از وزارت های مهم و کلیدی در امارت اسلامی می باشد که در یک سال گذشته دست آورد های زیادی در بخش های طی مراحل اسناد تقنینی ، حقوقی ، انسجام و قضایای امارات اسلامی داشته است.

او گفت در این مدت بیست طرزالعمل و اسناد تقنینی مختلف طی مراحل ، ۱۷۲ مشوره حقوقی ، ۲٦ ابراز نظر و۸۲٤۲۲ اسناد تصدیق و ترجمه شده است که مبلغ ۱۳۹۳۸۳۱ افغانی از این بخش عواید جمع آوری شده است.

او افزود: در این مدت مسوده های ١٤ سند تقنینی تدقیق و تسوید و جهت منظوری به ریاست الوزرا فرستاده شده است.

وی گفت: در مدت یک سال طرزالعمل برنامه ستاژ قضایی و نصاب درسی برنامه ستاژ تقنینی بازنگری و در مطابقت به پالیسی امارت اسلامی اصلاح گردید.

همچنان در این مدت ۱۳۲ نمونه مهر در ریاست های مرکزی و ولایات از سوی این وزارت تهیه شده است.

معین وزارت عدلیه گفت در یک سال گذشته ۹۷۷۰۰ قضیه حقوقی به وزارت عدلیه در مرکز و ولایات مواصلت گردیده است که ۳۳۷۰۰ آن در بخش املاک ،۵۷۰۰۰ در بخش تجارتی و ۷۰۰۰ آن در بخش فامیلی می باشد که بعضی از آن ها اصلاح و شمارآن ها تحت دوران وشماری از این قضایا به محاکم و ادارت مربوط محول شده است.

وی گفت: در یک سال گذشته ۲۳۳۹ دوسیه از بخش قضایای امارت اسلامی به وزارت عدلیه مواصلت شده است که پس از بررسی و فیصله های محاکم بیش از ۳۰۳۲ جریب زمین و جایداد های غصب شده دوباره به دست آمد و همچنان بیش

از یازده میلیون افغانی نیز از این بخش به عواید امارت اسلامی تحویل داده شده است.
او گفت که در یک سال گذشته به گونه مجموعی ۱۰۷۱۵۲۵۳۳ افغانی از بخش های این وزارت در مرکز و ولایات عواید جمع آوری شده است.
او خاطر نشان کرد همه مسایل در روشنایی شرعیت اسلامی و فقه حنفی حل و فصل می شود و در مورد فعالیت های احزاب سیاسی اشاره کرد و گفت حالا در افغانستان دیگر به فعالیت های احزاب سیاسی دیده نمی شود همه افغان ها در زیر یک چتر واحد زندگی می کنند.
معین وزارت عدلیه در این نشست از دست آورد های بخش های دیگر این وزارت نیز معلومات داد.